## دوړ کسانو دغوراوی اهمیت ستاسی دکاروبار/ سوداګریز بنسټ په بریالیتوب کي

کارمندان یا کارکوونکی نه یوازې دا چه دمشتریانو سره په منظم (معمولی) ډول سروکار لري، بلکه دکاروبار دماشین ګراریو غابښونه (دکاروبار مهم عناصر) دي، کله چي تولیداتو دسپارلو یا دخدماتو دعرضه کولو ټکی ته راشو. بیله دي چي یو مرکزي (کیفیت لرونکی او مؤثر هسته ئي) ټیم ولرو، دا به شوني نه وي چي په یوازی توګه پر پښو ودریږي، یو سوداګریز نښان جوړ کړي (سوداګریز مرکز جوړ شي) او دمشتریانو د جلب خاص تجربه ترلاسه کړي.

کله چي داستخدام پروسي ته راشو، دا په دې معنی نه ده چي فقط یو څوک ولټوو چي دوظیفي کومه تشه چي ایجاد شوي هغه سمدلاسه په داسي چا ډکه کړو چي هغه مو یا دکورنۍ کوم غړئ وي، یا داسی څوک وي چي زموږ خوښ وي. ښایي دا ډول کسان ونشی کولائ دذکر شوي بست غوښتني پوره کړي. دکورنۍ دغړو پیدا کول به ښایي آسانه وي، خو نوموړئ کیدائ شي هغه مهارتونه ونلري چي ستاسي دسوداګریز بنسټ دبریالیتوب لپاره اړین وي. باید ددي توان ولرو چي خالي بست په داسی یوه شخص ډک کړو کوم چي خپل ځان ئي دخپلی اداري اوږدمهاله بریالیتوب ته وقف کړئ وي، او دا دیوه سوداګریز مرکز د دوام او لویو بریالیتوبونو / لاسته راوړنو لپاره حیاتي ارزښت لري.

په هر بنسټ کي کار کوونکي یا مأمورین دهغه بنسټ له مهمو شتمنیو څخه ګڼل کیږی. په دې نړئ کي کوم سوداګریز مرکز شتون نلري چي هغه دي بیله افرادو په مؤثر او مؤفق ډول دوام ومومي. هر فرد چي په کار ګمارل کیږي، بنسټ ته یو بی ساری ځیز راوړي. خو مهمه داده چي داسی کسان ولټوو چي ډیر ښه کیفیتونه ولري. کله چي داستخدام په اړه څه وایو، یعنی کله چي غواړو داسی څوک ولټوو چي زموږ داستخدام له اصولو/ مقرراتو سره سمون ولري ، یوه غیر شعوری پریکړه به نه یوازی دوخت ، بلکه دیو شمیر زیاتو مالی سرچینو ضایع کول هم وي.

دوړ کس استخدام دسوداګریز مرکزد اړتیاو په هکله دیوه واضح نظر (انځور) له درلودلو څخه پیل کیږي. آیا دا نوی شخص کولای شي دا اړتیاوي پوره کړي. دبیلګی په توګه ستاسی ورینداره یا خوښینه په افغانستان کي ښایي ښه رومیان (یانجن رومی) وکړلای شي، خو که تاسي داسي څوک غواړئ چي دبنسټ دکومي برخي مصارف ثبت کړي، ښایي نوموړي میرمن ددي کار لپاره وړتیا ونلري. همدا ډول، که ستاسی ورور په دې ورستیو کي دمحاسبي له ځانګی څخه فارغ شوی وي، مګر تاسی داسی یو چاته اړتیا لرئ چي هغه ستاسی رومیانو (بانجن رومیو) ته دهغوی دطبعي وړ پارو ورکړي، نو ستاسی ورور ښایي ددې کار لپاره ښه انتخاب نه وي.

کله چي په دې هکله فکر کوو چي نوی مأمور به کوم کارونه کوي، دهغه دمقررولو مخکی باید باید تاسي دهغه لپاره دوظیفوی مکلفیتونو یو لړلیک ولیکی. وظیفوی لایحه باید دتطبیق وړ، واضح، او دقیقه وي چي ستاسی اړتیاو پوره کړي. ښه وظیفوی لایحي معمولاً دوظیفي په هکله دمهمو حقایقو له تحلیل یا ځیرني څخه پیل کیږي. دبیلګی په توګه :

**کومی وظیفي په دې لایحه کي شاملی دي.**
هغه لاري چاري چي په مرسته ئي دا وظیفي ترسره کیدای شي، نوموړی مأمور به دا وظیفي څرنګه تر سره کوي.
دوظیفي موخي او مسئولیتونه، ولی ددې کار سرته رسیدل اړین دي.
ددې وظیفي تړاو له نورو وظیفو یا کارو سره څرنګه دئ. ذکر شوی مأمور به دچا سره وظیفوي اړیکي ساتي.
کومی وړتیاوي ددې وظیفي لپاره په کار دې. ذکر شوی شخص باید کومی وړتیاوي/ مهارتونه ولري.

کوم څه باید تاسی په وظیفوی لایحه کي شامل کړی؟ وظیفوی لایحي معمولاً لاندی ټکی په بر کي نیسي:

- دوظیفي عنوان
- دوظیفي موخی، او عمومی هدفونه،
- دوظیفي په هکله لنډ تشریحات، او دوظیفي کچه یا دشخص موقف په مؤسسه کي

- دوظیفوی مکلفیتونو پوره تشریح او دوظیفې چوکاټ،
- دمکلفیتونو لړلیک، هغه مکلفیتونه چې سرته رسول ئې د ادارې لپاره اړین دي.
- کلیدی کارونه، او داړیکو په هکله مسئولیتونه، داهمیت له مخې دهغوی ترتیب.
- داړیکو تفصیل او دشخص رول په سوداګریز بنسټ یا شرکت کې، دنظارتی وظیفو په شمول، دمأدونیت رول او نوری کاری اړیکی.
- دوظیفې محل، دبیلګی په توګه چیری به دا وظیفې سرته رسیږي.
- کوم وسایل دي چې شخص ئې ددې وظیفې په جریان کې کارولای شی.

داستخدام یا ګمارلو په پروسه کی د غلطی فیصلی کول، کیدای شي اضافی فشارونه او مسائل منځته راوړي کوم چې ښایي دسوداګریز بنسټ دپرمختګ مخنیوی وکړي. نامطلوب مأمور کیدای شي پر نورو همکارانو هم ناوړه اغیزی وښندی. کیدای شي دهغه له امله دفروشاتو یا خرڅلاو کچه را کمه او سوداګریز بنسټ له بیځایه مصرفونو سره مخ شي. دوړ کس مقررول یا استخدام چې اړین مهارتونه ولري کیدای شي سوداګري په سمه لور روانه کړي ا او سوداګریز بنسټ په راتلونکی کې ډیری بریاوی ترلاسه کړي. د سوداګریز بنسټ خاوندان او مدیران باید داستخدام په ټوله جریان کې له هغه تأثیراتو خبر وي چې یو مأمور ئې لرلای شی. ددې ننګونو په نظر کې نیولو سره چې پر هغوی بریالی کیدل اړین دي، او هر هڅه چې له هغه څخه پرهیز لازمی دئ، کیدای شي داستخدام پروسه آسانه او په سم لور روانه کړي او په پایله کې ئې راتلونکی ښه او کامل مأمور انتخاب او غوره کړو.